**بسم الله الرحمن الرحیم**

## تر ټولو غوره او ناوړه امامان (حاکمان)

**(ژباړه)**

پر صحیح مسلم باندې د نووي په شرح کې د **"خیار الائمة و شرارهم"** تر باب لاندې په کم بدلون سره داسې راغلي:

له عوف بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

**«خیار ائمتکم الذین تحبونهم ویحبونکم ویصلون علیکم وتصلون علیهم، وشرار ائمتکم الذین تبغضونهم ویبغضونکم وتلعنونهم ویلعنونکم، قیل یا رسول الله صلی الله علیه وسلم افلاننابذهم بالسیف فقال لا ما اقامو فیکم الصلاة، و اذارأیتم من ولاتکم شیئا تکرهونه فاکرهوا عمله ولا تنزعوا یدا من طاعة»**

***ژباړه:*** *ستاسو تر ټولو غوره امامان (حاکمان) هغه کسان دي، چې محبت ورسره لرئ او هغوی له تاسو سره محبت لري، د هغوی لپاره دعا کوئ او هغوی ستاسو لپاره دعا کوي؛ خو ستاسو تر ټولو ناوړه امامان (حاکمان) هغه کسان دي، چې له هغوی څخه بېزاره وئ او هغوی له تاسو څخه بېزاره وي، تاسو پر هغوی لعنت وايئ او هغوی پر تاسو لعنت وايي. وویل شول: اې رسول الله ایا له هغوی سره په توره ونه جنګېږو؟ ویې فرمایل: نه، تر هغه وخته چې ستاسو په منځ کې لمونځ اقامه کوي؛ مګر کله مو چې خپل امامان د ناوړه عمل به ترسره کولو ولیدل، نو عمل یې بد وګڼئ، خو له اطاعته یې لاس مه اخلئ.*

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې خبره "خیار ائمتکم الذین تحبونهم ویحبونکم ویصلون علیکم وتصلون علیهم" کې د "یصلون" لفظ د دعا کولو په معنی دی.

انسان چې د اسلامي خاورو په ختیځ او لوېدیځ کې د وضعیت په اړه څه اوري او ویني، ګډوډ کېږي چې دا څه روان دي. حکامو مزدوری او خیانت ته غاړه ایښې ده، د امت پر وړاندې ولاړ دي، اولادنه یې ورته ووژل، لویانو ته یې بې‌احترامي وکړه، پر ښځو یې تېری وکړ، عزت یې تر پښو لاندې کړ، صله‌رحم یې پکې له منځه یووړ او مالونه یې لوټ کړل؛ د ذلت او بدبختۍ دا لېست ډېر اوږد دی، چې دومره ژر پای ته نه رسېږي او د مسلمانانو په ژوند کې دوام لري. مګر پوښتنه دا ده چې تر څه وخته؟ د امت دا ذلت او خواري به تر څه وخته دوام کوي؟ زموږ اولادونه به له شلو کلونو او یا تر هغه وروسته څه ډول دا د شرم تاریخ ولولي؟ له همدې امله حکام د هغه لعنت مستحق دي، چې په حدیث کې یې د هغوی په اړه یادونه شوې ده.

اې ربه، بشار الاسد له خپل ظالم لښکر او د اسلامي خاورو له ټولو خاینو حکامو سره یو ځای په ګونډو کړې، ترڅو امت یې له شر څخه په امن شي! ځکه هغوی د اوسني عصر شیطانان دي. اې ربه، ته شاهد یې چې موږ له هغوی څخه بېزاره یو او له اسلامي خاورو څخه د هغوی د لرې کولو په لاره کې د دوی په وژلو او له منځه وړلو کې هڅې کوو! اې ربه، موږ د دوی ماڼیو ته داخل کړې، زموږ لاسونه د هغوی تر مریو ورسوې او موږ د دغه امت د کمزورو او ناتوانه بچیانو لپاره د نصرت ورکوونکو په ډله کې راولې! هغه بچیان چې حکامو د څو کلونو په اوږدو کې یوازې پرېښي وو، ترڅو د دغو ذلیلو حکامو په وژلو سره یو نوی

دوران د عزت او سرلوړی په خط رسم کړو؛ یعنې د نبوت پر منهج خلافت تاسیس کړو، هغه خلافت چې زموږ مهربانه پیغمبر یې زېری راکړی او زموږ رب یې پخپل سپېڅلي کتاب کې ژمنه کړې ده!

اې مسلمانانو، په دنیوي ژوند مه غولېږئ او له هغو کسانو سره یو ځای شئ، چې د نبوت پر منهج د خلافت د بیا راتګ لپاره کار کوي او دغه لوی خیر ترسره کړئ!